

## نامتو ليکوال، شاعر او اديب عبدالله غمخور لدی دنيا څخه سترگې پټې کړی !

په ډيرې خواشينی سره خبر شوچې د پښتو ژبی نامتو ليکوال، شاعر او اديب الحاج عبدالله غمخور په پېښور کی د جمعی په شپه د ۲۰۱۰ کال دجنوري دمياشتې په ۱۴مه نيټه له دې نيمگړې دنيا څخه سترگې پټې کړې، او جنازه يې د جمعی په ورځ په کنړ کې ددوې په پلرنۍ هديره کی خاورو ته وسپارل شوه. انا لله وانا اليه راجعون.

زمونږ ګڼ شمير هيوادوال داروانښاد غمخور صيب داشعارو، ليکنو او افکارو سره آشنا دي. زمونږ دغه درونډ مشر د وران - ويجاړ افغانستان دکړيدلو خلکو ريښتينې غمخور او دپښتو ژبې هغه غښتلې ملي شاعر وو، چې پاک احساسات او روښانه ضمير يې د روانو او ملي اشعارو په ائينه کې په ښه توگه څرگند شويدي. هغه لکه څنگه چې دخپل طبيعي او ټولنيز چاپيريال محصول وو، نو اشعار يې هم ديوه حساسه انسان په توگه دخپل همدغه چاپيريال دروانو پيښو او حالاتو څخه متاثره وو. غمخور صيب دحماسو او رزمونو شاعر وو. د هغه د خوږمن او درديدلي زړه کړيکې، او دقلم ليکې، دخپل کړيدلي ولس د دردونو او غمونو څړيکې منعکس کولې.

دوطـــن له درد او غمه په ژړا يم          دتـــاريخ دعظمتونـــو پـــه غـــوغا يم
سترگې نشم پټولاې په جرمونو          څه چې وينم، څه چې گورم هغه به وايم

اروانښاد عبدالله غمخور لکه څنگه چې يې ويل دخپل خوږمن زړه نه مجبور وو، څه چې به يې زړه غوښتل، هغه به يې ويل، او په څه چې يې زړه درديده، نو په هغه به ژړيده. دهغه دزخمي زړه څړيکي، دژوبل احساس فرياد، دنياز لمن، او دآزادۍ پيغام دوخت دآواز په توگه مونږ ته په چاپ شوي بڼه په لويه هنگامه، يادونه، دآزادۍ غوغا، دټُورې په مخ، دکابل اوښکې، دغمخور کليات، دضمير آواز، او تاثرات کې راپاتې دي.

عمر مې تير شو په جنگونو په غوغا واوښتم          کور مې خراب شو په مرگونو په هی ها واوښتم
کـم نصيبي کـه کم بختي ده نه پوهيږمه پرې          له يوې بـلا نه نه يم خلاص په بلې بـلا واوښتم

هغه به ويل چې زما ليکنې او شعرونه دخپل - خپل وخت د ډول - ډول تاثراتو مصوري ده، چې بيلگې يې هر وخت خلکو ته وړاندې شويدي. پرون يې زمونږ حال داسې بيانوه چې:

زه دبارانه تښتيدمه دناوې لاندې شوم          له کوتکونو ويريدمه دارې لاندې شـوم
ما د ســــردار دبــــرو بزن نه گيله کوله          چې ناگهانه د ليوانو د حملې لاندې شوم

بيا دخپل وطن پريښودو او هجرت ته مجبوره شو:

سره ورځ ده راغلې سره اورونه لگيدلي دي          کـــور پـه کـــور بمـــونه له اسمانه وريدلي دي
کلي تـــالا شويدي کورونه سوزيدلي دي          ځوک په زړه داغلي ځوک په وينو لمبيدلي دي

رنگ دبلبلانو په ســــــــرو وینو دا چمن شو ځم له دې وطنه
سرې لمبې ترې خیژي اور مې ګډ په باغ و بڼ شو ځم له دې وطنه

په هجرت کې یې په تپل شوي زعامت نیوکې کولې چې:

لکونه پکې ورک شو خو ځـــو تنه شو آباد جهاد دې زنده باد وي
رهبر دې وي خوشاله نور عالم که وي ناښاد جهاد دې زنده باد وي

یا دا چې:

څوک منصبونه خوري څوک ماجبونه خوري څوک دغازیانو غوښې، څوک یې هډونه خوري
څوک دقدرت په هـــڅه دپاچاهۍ خوبونه څوک په غمونو کې ډوب دقـــام غمونه خوري

بیا یې په پېښور کې د ترور شوو افغاني شهیدانو په وینو سرې لارې کوڅې یادولې چې:

پــــه رڼا ورځ چـــې قتـلیږي دا دچـا بچي دي پــــه اور دظلم چې وریتیږي دا دچـا بچي دي
نه یې ګنـــــاه نه یې خطا او نه یې جـــرم معلوم چـــې بې قصـــوره حـــلالیږي دا دچا بچي دي
چې ګور او کور او پېښور ورته یو شوي دي نن چې ســـــر او مال یې تالا کیږي دا دچا بچي دي

په بل پړاو کې یې ویل چې:

کــه دسر امـــن غواړې نـــو طالبانو له څه که تـــور سپینوې نو مــــــــلایانو له څه
کـــه دې جګړو ته وي نیت قومندانانو له څه کــــه دقــــدرت وږی یې نو رهبرانـــو له څه

هغه داوسني پړاو په هکله ویل چې:

پرون و روس وژلي نن یې امریکا وژني دافغــــــــانانو بچي په واویلا وژني
دخپل غــرض لپاره ددهشتګرو په نوم دخپل مقصد دپاره د بنسټګرو په نوم
په دې پلمه او نــامه وژلي بیـــا وژني دافغانانو بچـــي په واویــــــلا وژني

غمخور صیب که څه هم دژوند په وروستیو شپو ورځو کې دزړه په رنځ اخته وو، خو نه یې قلم کیښود او نه یې دوطن دردو غم پریښود:

زه دزړه په رنځ اخته یــم زه دڅو ورځو مهمان یم له ژونـــــــدونه لاس ختلي الوداع کـــوم روان یم
غـــاړه وځمه هرچاته ددیدن وروستۍ شیبې دي کاښې بــــوتې ښکلومه په غوغـــا او په فغان یم
دوطـــــن ددردو غمه حال مې څه پوښتې همدمه زه دسرو سترګو ژړا یم زه دسرو اوښکو باران یم

غمخور صیب ددردیدلي ملت او تالا شوي وطن د آیندې په هکله مایوسه نه وو:

داوطن به خدای اباد کړي مونږ به نه یو دهرچا زړګی به ښاد کړي مونږ به نه یو
داچـې نن خـــانه بدوش دي در پـــه دره دابه هم په خپل مراد کړي مونږ به نه یو

زه او زما کورنۍ په دغه ستر درد او غم کې دغمخور صیب د کورنۍ، دهغوې دخپلوانو او فرهنګي انډیوالانو سره ځانونه شریک ګڼو او دهغه روح ته ددعا په کولو سره دپاک خدای دربار ته لاسونه لپه کوو چې دهغه دغه وروستۍ تمنا پوره کړي چې ویل یې:

یرغمل شوې ملت خلاص له یرغلګرو نه کړې له ظالمانو خونـــخوارانو دهشتګرو نه کړې
دخود غــرضو دغــرض لاسونه پریکــــړې ربه دافغانانو ګریوان خلاص له ستمګرونه کړې